NATO
OTAN

# نېټو څه دی؟



زموږ د ويب پاڼې څخه ليدنه وکړئ:
www.nato.int



د شمالي اتلانتيک تړون سازمان د نړۍ يو ستر نړيوال نهاد دی. دا يو سياسي او نظامي ايتلاف دی چې د اروپا او شمالي امريکا 30 هيوادونه يې غړيتوب لري.

دا هيوادونه د امنيت او دفاع په برخو کې همکارۍ لپاره ليدنه کوي. پدې تړاو، ناټو د سياسي او امنيتي همکارۍ لپاره دې دوه سترو وچو ترمينځ ځانګړې اړيکه برابروي.

## د خلکو ساتنه

موږ ډيری ځله د دې تضمين په موخه دا کار کوو چې موږ وکولی شو په يوه خوندي او له اقتصادي پلوه ثبات لرونکي چاپيريال کې اوسو. د ورځني ژوند هره برخه کې امنيت زموږ د سالميت لپاره يو مهم جز دی.

## د شراکتونو ټينګتيا

د سوله ييز اړيکو او ژورې نړيوالې پوهې لپاره د ډيالوګ او همکارۍ رامينځته کول خورا د اهميت وړ دی.

ناټو غړي او ملګري هيوادونو ته ځانګړی فرصت برابروي چې د باور رامينځته کولو لپاره امنيتي مسايلو په تړاو مشوره وکړي، او په اوږدمهال کې د جګړې مخنيوي کې مرسته وکړي.

د عملي همکارۍ او ځو اړخيز نوښتونو له لارې، هيوادونه په ګډه نوي امنيتي ننګونو سره مخ کيږي.

## د نوي ګواښونو سره مبارزه کول

څنګه چې د ګواښ بڼه بدليږي، همداغسې بايد د سولې ساتنې طريقې هم بدل شي. ناټو د نن ورځې ګواښونو په وړاندې خپلې دفاعي وړتياوې له سره سوق کوي. دا د تروريزم، ناکام دولتونو او امنيتي ګواښونو لکه د جمعي تخريب وسلو په برخه کې ځواکونو ته وده ورکوي او څو مليتي لارې رامينځته کوي.

## د سولې او ثبات رامينځته کول

د ثبات ګټو څخه په هم مهاله ډول ډيری اړخونه خوند اخيستلی شي.

په هغه سيمو کې ثبات خورا مهم دی چيرې چې ترينګلتياوې د امنيتي ګواښونو لامل کيږي. له همدې امله ناټو د نورو نړيوالو سازمانونو سره په همکارۍ د بحران مديريت عملياتو کې فعال ونډه لري.



# ناټو څه کوي؟

ناټو د سیاسي او نظامي وسایلو له لارې د خپلو غړو هیوادونو ساتنې ته ژمن دی. دا د دفاع اصلاحاتو او سوله ساتنې په څیر په پراخه کچه امنیت پورې اړوند برخو کې د غیر ناټو هیوادونو سره هم د مشورې او همکارۍ هڅې تشویقوي.

د خپلو بحثونو او شراکتونو له لارې، ناټو د خپلو غړو هیوادونو دننه او د هغوی د پولو څخه ورهاخوا د جګړې مخنیوي کې ونډه اخلي.

دا دموکراتیک ارزښتونو ته ارتقا ورکوي او د لانجو او جګړو سوله ییز حل ته ژمن دی. که چیرې ډیپلوماتیک هڅې ناکام شي، نو دا د بحران د مدیریت او سوله ساتنې عملیاتو لپاره یوازې یا د نورو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو سره په همکارۍ، اړین نظامي ظرفیت لري.

ناټو یو دریم بعد هم لري چې پدې کې د ملکي چارو چټک پلان کول، د ناورینونو د مدیریت لپاره ټلوالو او ملګرو سره مرسته کول، او په ورته توګه د ساینس او چاپیریال په برخه کې د همکارۍ ارتقا لپاره فعالیتونه شامل دي.

# ناټو څنګه کار کوي؟

هر غړی هیواد د بلجیم، بروسل ښار کې د ناټو سیاسي مرکز کې یو دایمي پلاوی لري. د دې پلاوي مشري یو سفیر کوي، چې د ایتلاف مشورتي او پریکړه کولو پروسه کې د خپل حکومت استازیتوب کوي.

د ناټو اتلانتیک شورا پدې سازمان کې د سیاسي پریکړه کولو ترټولو مهم نهاد دی. دا مختلف سطحو کې ملاقاتونه کوي او مشري د ناټو د عمومي منشي لخوا کیږي، چې په مهمو مسایلو د غړو هیوادونو موافقت ته رسیدلو کې مرسته کوي.

د ناټو ټولو کمیټو کې ټولې پریکړې د عمومي توافق له مخې کیږي. پدې توګه د "ناټو پریکړه" د ټولو غړو هیوادونو ټولیزې خوښې ځرګندونه کوي.

ناټو خپل خورا لږ دایمي ځواکونه لري. کله چې د شمالي اتلانتیک شورا لخوا په عملیاتو موافقت وشي، نو غړي په داوطلب ډول ځواکونه استوي. دغه ځواکونه د ماموریت بشپړیدو څخه وروسته بیرته خپلو هیوادونو ته ستنیږي.

دا د نظامي قوماندې جوړښت رول دی چې دغه عملیات همغږي او پرمخ ویسي. دا جوړښت مرکزي قوماندانۍ یا مرکز او په مختلف غړي هیوادونو کې موجود بیسونه لري.

د ناټو ورځنۍ فعالیتونه، ملکي او نظامي جوړښتونه او د امنیتي پانګوونې پروګرامونه د عادي بودیجو له لارې تمویل کیږي چې پدې کې د غړي هیوادونو حکومتونه د موافقت شوي لګښت سهم فورمول سره په مطابقت کې ونډه اخلي.





## غړي او ملګري هیوادونه

**د شمالي اتلانتیک تړون د 1949 اپریل په 4 لاسلیک شوی**

### غړي هیوادونه (+ د غړیتوب نیټې)

آلمان - 1955
آیلینډ - 1949
البانیا - 2009
انګلستان - 1949
ایټالیه - 1949
ایستونیا - 2004
بلجیم - 1949
بلغاریه - 2004
پورتګال - 1949
پولینډ - 1999
ترکي - 1952
چک جمهوریت - 1999
د امریکا متحده آیالات - 1949
ډنمارک - 1949
رومانیا - 2004
سلواکیا - 2004
سلوانیا - 2004
شمالي مقدونیه - 2020
فرانسه - 1949
کاناډا - 1949
کرواسیا - 2009
لتوانیا - 2004
لتویا - 2004
لوګزامبورګ - 1949
مانتینیګرو - 2017
ناروی - 1949
هالینډ - 1949
هسپانیه - 1982
هنګري - 1999
یونان - 1952

### د سولې لپاره شراکت (PFP) هیوادونه

آزربایجان
آیرلینډ
اتریش
ارمانیا
ازبکستان
اوکراین
بلاروس
بوسنیا او هرزیګوینا
تاجکستان
ترکمنستان
جورجیا
د مالدیو جمهوریت
روسیه
سربیا
سویډن
سویزرلینډ
فنلینډ
قازقستان
کرغیزستان
مالټا

### د مدیترانه ډیالوګ هیوادونه (MD)

ردن
اسرایل
الجزایر
تونس
مراکش
مصر
موریتانیا

### د استانبول همکاري نوښتي هیوادونه (ICI)

بحرین
قطر
کویټ
متحده عربي آمارات

### په ټوله نړۍ کې ملګري

آسټریلیا
افغانستان
پاکستان
جاپان
د کوریا جمهوریت
عراق
کولمبیا
مغلستان
نیوزیلینډ

0351-20 © NATO 2020 - PUS